Afghanistan Analysts Network

Kate Clark

# The *Layeha*

## *Calling the Taleban to Account*

**Appendix 2.A The 2010 Version of the Taleban Code of Conduct in Pashto**

2010

www.theirwords.org




بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده ونصلي على رسوله الكريم.

امابعد: فقد قال الله تبارک و تعالى: إنّ اللّه يَأمُرُكُمْ أن تؤدُّوا الأمانات إلَى أهْلِهَا وَإذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النّاسِ أن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ إنّ اللّهَ نِعِمّا يَعِظُكُم بِهِ إنّ اللّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا ﴿٥٨﴾ يَا أيُّهَا الّذِينَ آمَنُوا أطِيعُوا اللّهَ وَأطِيعُوا الرّسُولَ وَأوْلِي الأمْرِ مِنكُمْ فَإن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إلَى اللّهِ وَالرّسُولِ إن كُنتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكَ خَيْرٌ وَأحْسَنُ تَأْوِيلاً ﴿٥٩﴾ النساء

د الله تعالى په لاره کې جهاد کول هغه عظيم الشان عبادت او ستره فريضه ده چې په کولو سره



www.theirwords.org

۲

يې د اسلامي امت عزت او د الله تعالى د کلمې
لوړوالى راځي، جهاد د مسلمانانو د کاميابۍ او
عظمت هغه اساسي وسيله ده چې له برکته يې د
اسلامي امت د سرلوړۍ او سعادت شمله لوړيدلى
شي، کومو ولسونو چې جهاد کړى هغوئ
د خپلواکۍ او آزاد ژوند له نعمته برخمن شوي
او برعکس کومو ولسونو چې توره په تيکي کې
ننه ايستې او د جهاد لاره يې پريښې، هغوئ پرته
له دې چې د غلامۍ او اسارت ځنځير يې غاړې
ته لويدلى وي بله ګټه يې نده ترلاسه کړې . او س
چې مجاهدين د کلمة الله د اعلاء، د خپل مسلمان
ولس او اسلامي امت د سرلوړۍ په تکل د مقدسو
وينو نذرانې ورکوې د دې اړتيا تر هر وخت ډيره
محسوسيده چې د روښانه جهادي تګلارې په

۳

رڼا کې د جهادي امورو د تنظيم او ترتيب په منظور
د مجاهدينو د اداري ،تربيوي ،تعليمي ،حقوقي او
اخلاقى لارښوونو لپاره داسې يوه لائحه په لاس کې
ولرو چې د هغې د ټاکليو شرعي مقرراتو په رڼا کې
مجاهدين وکولاى شي خپل هدف لا ښه مشخص، د
اسلام د دښمنانو او د هغوى د مرستندويانو کوائف
په ګوته او ځينو هغو ابهاماتو او شبهاتو ته چې په
خپل جهادي محيط کې ورسره مخ وي په اسانې
سره د حل لاره پيدا کړي اوهم د الهي لارښوونو
مطابق داسې چاته مسؤليتونه وسپارل شي چې
د تقوى ،شجاعت، او داسې تدبير خاوندان وي چې
هم خپل ورسپارل شوي مسؤليت په ښه ډول ترسره
کړى او هم د دښمنانو دسيسې په خپل وخت خنثى
کړاى شي.

٤

دادى د لوي خداى جل جلاله په توفيق
او معاونت سره د اسلامي امارت مشرتابه په دې
وتوانيد چې د وخت د دغې مهمې غوښتنې
د پرځاى کولو لپاره د هيواد د جيدو او متبحرو
علماؤ، مفتيانو. پوهانو او اهل خبره اشخاصو په
مرسته او مشوره د محمدي صلى الله عليه وسلم
غراء شريعت په رڼا کې دغه ستاسو تر نظر لاندې
لائحه او اصولنامه په (۱۴) برخو او (۸۵)
مادو کې ترتيب کړي.

او په دويم ځلې چاپ کې يې هم د ذکر شويو
اشخاصو په مشوره د موجوده شرايطو په نظر کې
نيولو سره ځينې ضروري مواد ور زيات کړل او هم
يې ځينو مادو ته تفصيل او وضاحت ورکړ تر دويم

۵

ځل چاپ وروسته د همدې لائحې مراعاتول او په
عمل کې پلې کول يې د اسلامي امارت د هر مسؤل
او مجاهد مسؤليت او وجيبه ده.

د اسلامي امارت ټول پوځي او اداري
مسؤلين او عام مجاهدين مکلف دي چې په
جهادي چارو کې به د دې لائحې د مقرراتو پابند
وى او د هغې د اصولو په رڼا کې خپلې ورځنۍ
جهادي چارې سمبال کړي .

والسلام

۱۴۳۱ هـ ق کال د جمادى الثانى ۱۵ نېټه

۲۰۱۰-۵-۲۹

۱۳۸۹-۳-۸

٦

## تمهيدي يادونې

۱- په لائحه کې چې دامام يانائب امام يادونه کېږي مقصدورڅني محترم امير المؤمنين ملا محمد عمر (مجاهد) حفظه الله اودهغه نائب دی

۲- دلائحې په متن کې چې کله چاته دتعزير ورکولوذکرشوی وي په هغه کې دپيسواخستل نه راځي.

۳- دلائحې په موادو کې چې کله له کوم چا څخه دتضمين اخستلو يادونه شوې وي نو د ياد

٧

شوي تضمين موخه يامفهوم يواځې دغير منقولو ملکيتونواو اشخاصو ترضمانت پورې منحصراو محدود دی دنقدي پيسواومنقولو مالونو تضمين نشي ځيني مراد کيدای.

۴- دغه لائحه په دويم ځل د۱۴۳۱هـ ق کال دجمادي الثانی په ۱۵نيټه چې د۱۳۸۹هـ ش کال دجوزادمياشتې له ۸ اود ۲۰۱۰زيږديزکال دمی دمياشتې له ۲۹ نيټې سره سمون خوري چاپ او نافذالعمل شوه ، داسلامي امارت ټول مسؤلين او مجاهدين دهمدې لائحې په عملي کولو مکلف دي.

٨

## لومړی برخه

### دمخالفينو دتسليمي اوهغوی ته د دعوت ورکولو مسائل

۱- هرمسلمان کولای شي چې دکابل د مزدورې اداري کارکوونکواو واکمنو ته دعوت ورکړي ترڅو هغوئ په دې فاسده اداره کې دندې پريږدي او مقاطعه ورسره وکړي

۲- که څوک له دغې فاسدې اداري څخه دچا د دعوت اوياهم دخپل ايمان په وجه راووزي نوکه عام کس وو ولسوال به خط (اجازه ليک )ورکوي اوکه مشهورشخص وويايې مسلمانانوته ډير

٩

ضررونه رسولي ووبيابه ولسوال دوالي په مشوره خط ورکوي اومجاهدين به حتما پرې خبروي بيا که کوم مجاهد دغه شخص ووژني او يا کوم نقصان ورته ورسوي، د داسې عمل کوونکي ته به د اسلامي اصولو په رڼا کې جزاورکول کېږي.

۳-کوم کسان چې تسليم اوتائب شي که يې دخپل اقتدار په وخت کې (چې له کفارو يا د هغوئ له غلامې اداري سره يې کار کاوه) دچا مال يا نفس ته تاوان رسولی وي اوس همدغه شخص دالله تعالی له جانبه مکلف دی چې حقدار ته خپل حق ورکړي اوکه يې ورنه کړي نو ګناه ګار دی، البته محکمه اويا بل څوک د هغه جرم تاوان په زور نشي ورڅخه اخستلای اونه هم سزا ورکولای



www.theirwords.org

١٠

شي، خو که داقتدار په وخت کې يې دچامال وړی
وي اواوس عين هغه مال ورسره موجود وي
نودمال اصلي مالکان خپل مال ورځخه اخستلای
شي او که عين هغه مال ورسره موجودنه وي بياپه
زوره تاوان نشي ځيني اخستلای، البته که يې
داقتدار په وخت کې ياله هغه مخکې له چا ځخه
قرض يا نوره معامله لکه اخستل اوخرڅول په
رضا کړي وي اوحق يې ورباندې پاتې وي دهغه
طلب ترې کېدای شي اوکه يې محکمه په دا ډول
شخصي موضوعاتو کې طلب کړي نو دا شخص به
ورته حاضريږي .البته که دغلوکومې ډلې اوياهم
کوم قوم په بل کوم قوم، کلی ،کور ،دوکان
،موټراويابل څه باندې حمله کړې وي او قتل يې

١١

کړی وي يا يې مال وړی وي نوپه دې صورتونوکې
بيا قضاء اوديانتاضمان (تاوان) باندې شته.
الهدايه (ج٢ ص٣٤٠) فتح القدير(ج٥ص ٣٤٠) عالمګيريه (ج٢ ص ٢٨٤)

۴- هغه څوک چې ددعوت يا بلنې دمنلو ځخه
وروسته پر خپلو ژمنو وفا ونکړي او ښکاره غدر
وکړي له نوموړي سره شوې وعده لغوه او د دوهم
ځل تسليميدو اوتائب کېدو په صورت کې که
مجاهدين ځيني مطمئن نه وي نو ضمانت دې
ځيني واخلي.

۵- داوسنی فاسدې اداري کوم مربوط شخص
که دمسلمانانو په قتل تورن وي، مسلمانان هم
ورڅخه کرکه او نفرت لري او د مقابل لوري له

١٢

ليکو څخه راووځي، مجاهدين دې له داسې کس
څخه دبيرته نه اوښتلو او چاته دضرر نه رسولو
ضمانت واخلي ، نوموړی دې خپل عادي ژوند
کوي، خوبيا هم د ولسوالی مسؤل په دې مکلف
دی چې په نوموړي باندې تر پوره باور او اطمينان
پورې څارنه او تعقيب وکړي،

البته ديوه مهم کاردترسره کولوپه صورت کې
دې چې ياکوم بهرني يرغلګر يالوړرتبه دولتي
چارواکې ووژني اويايې مجاهدينوته دژوندي
نيولوزمينه مساعده کړي .دزيات امتياز د
ورکولو لپاره دمشرتابه مقام ته معرفي کړای شي.

٦- کوم کسان چې له لاسپوځي اداري ځخه
راووزي اومجاهدينو ته تسليم شي نومجاهدين

١٣

دې دمصلحت له مخې تر هغو پورې په خپل صف
کې ځای نه ورکوي چې تر څو يې پوره اطمينان نه
وي ورباندې را غلی تر اطمينان وروسته که ځای
ورکول کېږي دولايت له مسؤل ځخه به اجازه
اخستل کېږي.

٧- دمخالف لوري کوم مسلح کس چې له خپل
لښکرڅخه را جلا شي اوداسې ځای ته راشي چې
دځان دفاع نشي کولای اوله ظاهري حاله يې
داسې ښکاري چې دتسليميدو اراده لري
نوترڅوچې دايقين نوي را غلی چې نوموړی
دتسليميدو اراده نلري بلکې دحملې اوچل په نيت
را غلی دوژلواقدام يې جائز ندی.

۱٤

۸-کـه دمخـالف لـوري څخـه څوک لـه کـوم مجاهد نـه وغـواړي چې زه بـه مجاهـدينو تـه پـه مخالف صف کې خدمت کوم خوته او ستا دځپل دلګی یا ګروپ مجاهدين دي ماتـه تکليف نـه رسـوي مجاهـدينو تـه دارتبـاط پـه صـورت کـې يـوازې د دا ډول خـاص امـن ورکولو اجـازه شـته، عمـومي امـن دي نـه ورکـوي، اوهـم بـه د داسـې ارتبـاط پـه صـورت کې مجاهد دځپلې ولـسوالی دمـسؤل څخـه اجازه اخلي او ولـسوال بيـا د والـي څخـه پـه اجازه اخستلو مکلف دی، لـه دغـه امـن ورکـونکي شـخص اودلګـی څخـه پرتـه نـور مجاهدين دنومـوړي شـخص دمـرګ يا تکليـف ور رسولو پـه صـورت کې هيڅ مـسؤليت نـه لـري ځکه چې نوموړي ته خصوصي امن ورکړل شوی.

۱٥

## دوهــمــه بــرخــه

### د بنـديانوپـه بـاب

۹- که کور نی یا بهرنی دښمن ونیول شي نو سمد لاسه به دولايت مسؤل تـه سپارل کيږي، تر سپارنې وروسته بيا دوالي صلاحيت دی چې پـه همدغو مجاهدينو يې ساتي که يې نورو ته سپاري.

۱۰- دغلامي اداري داخلي عسکر، پوليس، چـارواکي اويانورمـسؤلين کـه ونيـول شـي دغـه اسيران د اسير پـه مقابل کې تبادلـه کـول، احساناً اويا هـم پـه پـاخه تـضمين يې پريـښودل دوالـي صلاحيت دی دپيسو پـه بدل کې يې خوشي کول

۱٦

ممنوع دي، دوژلو او تعزير صلاحيت يوازې امـام، د امـام نائـب اودولايـت قاضـي لـري بـل چاتـه دتصرف حق نشته که پـه کوم ولايت کې قاضـي نـه وي تعين شوی نو دقتل او تعزير پـه موضوع کې يې قضا دولايت مسؤل ته سپارل سوې.

۱۱- هغـه ټيکـه داران چـې کفـارو او د هغـوی غلامي اداري ته تېل، وسائل اونور مواد انتقالوي اکمـالات يې کوي او يـاهم نظـامي مرکزونـه ورتـه جـوړوي همدا رنګـه دامنيتـي کمپنيو لوړ رتبـه او ټيټ رتبه مسؤلين او دکفارو ترجمانان اودښمن تـه داکمـالاتو کـونکي موټروانـان کـه ونيـول شـي اوقاضـي تـه ثابتـه شـي چـې دا کـسان واقعـادغـه کارونه کوي نو دمرګ سزا دي ور کړي البتـه کـه پـه

۱۷

کوم ولايت کې قاضي نوي تعين شوی نو دثبوت او قتل موضوعات يې والي ته سپارل شوي.

۱۲-کـه حربـي کـافر ونيـول شـي، دنومـوړي شـخص وژل، پـه اسـير تبادلـه کـول، يامـصلحتا خوشي کول، اوياکه دمسلمانانو حاجت وو د پيسو پـه مقابـل کې يې پريـښودل د امام او نائب امام صلاحيت دی بل چاته دتصرف حق نشته، کـه نيول شوی شـخص مـسلمان شي، بيـا يې امـام يا نائـب امـام تـه تبادلـه پـه دې شـرط جـائز ده چـې دده پـه خوښه وي او دبيرته کافر کېدو خطر يې نه وي.

۱۳ - کـه مجاهـدين بنـديان ونيـسي اوځپلـو مرکزونو ته يې لانه وي رسـولي پـه دغـه حالـت کې له خطرسره مخـامخ شي اوخونـدي ځـايونو تـه يې

۱۸

نشي رسولای نو که دغه کسان دمقابل لوری کسان وي او په جنګ کې نیول شوي وي یا د مخالف لوري چارواکې وي بیایې هغه حاضر مجاهدین وژلای شي او که داډول نه وي او شکمن بندیان وي چې لاپیژندل شوي نوي اویا هم په حقوقي موضوعاتو کې نیول شوي وي بیایې وژل ورته جائز نه دي که څه هم دلته ورڅخه پاتې شي.

۱۴ - هغه عسکر یا پولیس چې مجاهدینو ته تسلیم او تائب شي مجاهدینو ته یې وژل جائز نه دي البته که یې وسله هم راوړه اویا یې بله ویاړلې کارنامه وکړه مجاهدین دې نورهم ونازوي.

۱۵ - څوک چې له مجاهدینو سره اسیرشي نومجاهدین دې په لوږه، تنده، یخ او ګرمۍ سره

۱۹

عذاب نه ورکوي که څه هم دمرګ مستحق وي بلکې هرډول شرعي فیصله چې باندې شوې وي دهغې مطابق به تعزیرورکوي هغه که وژل وي اویا بله سزا.

۱۲ - له امام، نایب امام او قاضي پرته هیچا ته دتعزیر اجازه نشته او دولایت له قاضي پرته دولسوالیو قاضیان که دتعزیري قتل حکم کوي نو دولایت له قاضي څخه به اجازه اخلي البته که په کوموولایتونو کې دولایت قاضي نه وي تا کل شوی دقتل او تعزیر په موضوع کې یې صلاحیت والي ته سپارل شوی.

۲۰

# دریمه برخه

## دجاسوسانو په هکله

۱۷ - که چېري پریوه شخص باندې دجاسوسۍ ثبوت پیداشي هغه په اوسني وخت کې ساعي بالفساد بلل کېږي، دولایت او دولسوالۍ قاضي او که قاضي نوي دولایت مسؤل دتعزیر ورکولو صلاحیت لري، دنیول شوي جاسوس وژل دامام، نائب امام، دولایت دقاضي او که قاضي نه وي دوالي صلاحیت دی بل څوک یې دوژلو حکم نشي کولای.

۱۸ - هرکله چې جاسوس دساعي بالفساد په بڼه یا مفهوم وپیژندل شونو په لاندې څلور ګونو طریقو یې ثابتول حتمي دي.

۲۱

**لومړی** : نوموړی په خپله خوښه له اکراه پرته پر خپل ځان دجاسوسۍ اعتراف او اقرار وکړي.

**دوهم** : چې دوه کسه داسې شاهدان پرې د جاسوسۍ شاهدي ورکړي چې دهغوئ په شاهدۍ قاضي ته اطمینان حاصل شي.

**دریم** : هغه قرائن (اسناد) چې د غالب ګمان دپیدا کیدو لامل ګرزي لکه د جاسوسۍ ځانګړي آلات (سامانونه) چې دجاسوسۍ لپاره په خاصه توګه استعمالیږي او جاسوسان ترې د جاسوسۍ لپاره استفاده کوي او داسې نورې علامې.

البته دقرینې حالت هرڅوک نشي معلومولای، نو دمحکمې دوجود په صورت کې به قاضي او د نه موجودیت په صورت کې به دنظر خاوند، مدبر



www.theirwords.org

۲۲

اومتدين مسؤل دقرينې قوت اوضعف ته وګوري، کـه قرينـه ضـعيفه وه پـه تعزيـر کـې دې تخفيـف (سپکوالي) راولي اوکه قرينه قوي وه نو دقرينې دقوت په اندازه دې تعزير سخت کړي، تردې که قرينه دومره قوي وه چې پوخ يقين يې افاده کاوه بيا که يې امام .نائب امام اوقاضي په وژلو کې مصلحت وليدنو وژلای يې هم شي.

**څلورم** خبر عدل، عدل هغه کس ته ويل کېږي چې ډير انصاف داره وي، تعصب لرونکی نه وي له کبائرو (لويو ګناهونو) څخه ځان ساتي او په صغائرو (کوچنيو ګناهونو) استمرار (دوام) نه کوي.

۱۹- په زور يعني وهلو، ويرولو او تعذيب ورکولو اقرار اخستل اعتبار نه لري او نه هم جرم پرې ثابتېدای

۲۳

شــي،اقراراخــستونکي بايــد ديـنـداره او باتــدبيره اشخاص وي چې په اکراه (زور) سره داقرار مخه ونيول شي ځکه چې په شريعت کې د اجبار او زور په اقرار اعتماد نشي کېدای او نه اعتبار لري، مجاهدين بايد داقرار پــه اخــستلو کې لــه بنـدي ســره داســې وعدې ونه کړي چې دپوره کولو اراده يې نه لري

همـدا رنګـه پـه نـورو خلکـو بانـدې يـوازې دجاسوس اقرار يا شاهدې بسنه (کفايت) نه کوي پدې صورت کې هم په (۱۸) ماده کې يادې شوې څلور طريقې دتعميل وړ دي او بايد دهغو په رڼا کې اجراءات ترسره شي.

۲۰-که کوم کس په جاسوسۍ باندې متهم وي او جرم يې دشرعي اصولو په رڼا کې پوره نشي

۲٤

ثابتېدلای خو مجاهدين ترې انديښمن وي او په اړه يې شکوک لري ولسوال کولای شي چې د تجربه لرونکو اوذی رايه خلکو په مشوره دغه شخص له وطن څخه داسې ځای ته وشړي چې هلته يې خطراوضــررنه وي اويــاهم پــوخ تــضمين ځينــې واخلي، پوخ تضمين دا معنی چې د اړوندې سيمې اعتمـادي خلـک او د نومـوړي کـس خـوا خـوږي کـسـان يـې ضـمانت وکـړي ،اويـاهم غيـر منقـول جايداد په داسې ډول په ضمانت کې ورکړي چې که نوموړی بيا جاسوسۍ او يابل تخريبي عمل ترسره کړي اوله سيمې وتښتي دنه حاضرېدو په صورت کې به يې دغه جايداد پـه داسـې ډول حبس کېږي چې نوموړی شخص به استفاده نشي ځيني کولای.

۲۵

۲۱- کـه کوم مجرم شرعاً دقتل مستحق وي او دوژلو حکم يې وشي هغه که جاسوس وي، که بل مجرم دټوپک په وسيله دې ووژل شي او عکاسي کول يې ممنوع دي.

۲۲-:داچې ديوه انسان ترمرينې ډير شرعي احکام تړاولري ،لهذا مجاهدين که کوم په قتل محکوم شخص په داسې ډول ووژنی چې خپلوان يې پرې خبر نشي؛نو په هره ممکنه طريقه چې دوئ يې لازم او مناسب بولي بايد دوژل شوي شخص وارثان دهغه دقتل له نيتې نه خبر کړي.



www.theirwords.org

٢٦

## څلورمه برخه

### دښمن ته داکمالاتي او تعميراتي فعاليتونو د تر سره کوونکو په هکله

۲۳- هغه شخصي موټر چې دکفارو مالونه انتقالوي او يا يې نور خدمت کوي د هغو سوزول جائز دي خو د پيسو په مقابل کې يې پرېښودل او استفاده ورڅخه کول ممنوع دي.

۲۴- هغه موټروانان چې دکفارو مالونه انتقالوي، د مالونو د انتقال په حال کې چې مجاهدينو ته ښه معلومه شي چې دکفارو او د

٢٧

هغوی غلامې ادارې ته مواد انتقالوي، هغوئ دې ووژل شي او نقليه وسايط دې ور وسوځول شي او که اسيران شي او قاضي ته ثابته شي چې دا کسان واقعاً دغه کارونه کوي نو د مرګ سزا دې ور کړي البته که په کوم ولايت کې قاضي نه وي تعين شوی نو د ثبوت او قتل موضوعات يې والي ته سپارل شوي.

۲۵-هغه ټيکه داران (اجاره داران) چې يقيني معلوم شي چې کفارو او دهغوئ غلامې ادارې ته مرکزونه جوړوي او يا تيل او نور مواد ورته انتقالوي مجاهدين دې وسايل ور وسوځوي او دوئ دې ووژني او که اسيران شي او قاضي ته ثابته شي چې دا کسان واقعاً دغه

٢٨

کارونه کوي نو د مرګ سزا دې ور کړي البته که په کوم ولايت کې قاضي نوي تعين شوی نو د ثبوت او قتل موضوعات يې والي ته سپارل شوي

۲۶ – کوم ټيکه داران چې يقيني معلوم شي چې د مخالف لوري له طرفه د کېدونکو کارونو د پاره مزدوران او نور کار کونکي ورپيدا کوي د هغوئ سرپرستي کوي د غه ټيکداران دې هم ووژل شي.

٢٩

## پنځمه برخه

### د غنيمت په اړه

۲۷- غنيمت د محاربو کفارو هغه مال ته ويل کيږي چې په جنګ کې ونيول شي، په افغانستان کې د غنيمت حکم دادی چې پنځمه برخه به د ولايت مسؤل ته سپارل کيږي، د ولايت مسؤل به يې د مشرتابه په هدايت د خمس په مصارفو کې لګوي او څلور برخې د هغو مجاهدينو دي چې د جنګ په صحنه کې حاضر وي او يا امير د همدې جنګ د پاره کمين ،معلوماتو او يا هم د بل مصلحت د پاره يوې خواته ليږلي وي او هم د هغو کسانو دي چې لاندې دوه شرطونه پکې موجود وي.

۳۰

**لومړی:** دهمدغو عملیاتو ساحې ته به دومره نیرډې وي چې که کومک ورځخه وغوښتل شي نو ور رسیدای شي او کومک ورکولای شي.

**دوهم:** په دغو عملیاتو کې به دګډون اراده لري، ورته آماده به وي او دجنګیدونکو مجاهدینو سره به په رابطه کې وي دمثال په ډول قوماندان دجنګ په نیرډې ساحه کې اماده کړي وي چې که ضرورت شو همدغو عملیاتو ته مو را غواړم که دغه دواړه یا یو شرط موجود نه وي بیا په غنیمت کې ورسره شریک نه بلل کیږي.

۲۸ – دمجاهدینو قومندانان دې ترجنګ مخکې دخپلو مجاهدینو نومونه او شهرت لیکې ترڅو دغنیمت په تقسیم اودمجاهدینو داسارت.

۳۱

شهادت او بل ضرورت په وخت کې معلومات مو جود وي.

۲۹– که په یوه کلی کې مجاهدین له کفارو سره جنګ وکړی، اودکلی خلک هم په جنګ کې برخه واخلی نو په غنیمت کې شریکان بلل کیږی او که یې په جنګ کې برخه وانه خیسته شریکان نه بلل کیږي.

۳۰ – که کوم مجاهد دجنګ ترختمید و مخکې شهید شي نو په غنیمت کې یې حصه نشته البته ملګروته یې په کار دي چې احساناً برخه ورکړي او که دجنګ په صحنه یادجنګ تر ختمید و وروسته شهید شي بیا په غنیمت کې شریک بلل کیږی او برخه به یې وارثانو ته ورکول کیږي.

۳۲

۳۱-که له خارجي یرغلګرو څخه د جنګ په پایله کې پیسې یا اجناس ونیول شي نو دا غنیمت دی او که له جنګه پرته مجاهدینو ته په لاس ورشي بیا فئ دی او بیت المال ګرځي.

۳۲- دغلامې اداري مالونه که مجاهدین په جنګ سره ونیسي نو دمشرتابه له لوري مجاهدینو ته اجازه ده چې دغنیمت په شکل یې تقسیم کړي او که بې جنګه ونیول شي بیا دې بیت المال ته داخل کړي ترڅو دمجاهدینو په عمومي ضروریاتو کې مصرف شي.

۳۳- هغه پیسې چې له عمومي خزانې ((بانک)) څخه را ایستل شوې وې او دمعتمد په لاس کې وې او تر دې وخت پورې یې مزدورانو او

۳۳

مامورینو ته نه وې تقسیم کړې؛ نو که په جنګ سره ونیول شي دغنیمت په شکل دې تقسیم شي او که بې جنګه ونیول شي بیت المال ګرځي، البته که دا پیسې مامورینو او مزدورانو ته ورکړل شوې وې بیا یې دغه مامورین او مزدوران مالکان ګرځي امام، قاضي او د ولایت مسؤل کولای شي چې دغه کسانو ته تعزیر ورکړي خو دغه پیسې ورڅخه اخستل کیدای نشي، دمؤسسو دمزدورانو اجرت (مزدوري) هم دا حکم لري.

٣٤

# شپږمه برخه

## د تشکیلاتو په هکله

۳۴- ولایتي مسؤلین مکلف دي چې په ولایتي سطحه داسې کمیسیون جوړ کړي چې غړي یې د کار اهل او تعداد یې له پنځو تنو څخه کم نه وي ولایتي کمیسیون دې د ولسوال په څنګ کې هم د ولایتي مسؤل په موافقه د ولسوالۍ په سطحه دا ډول کمیسیونونه جوړ کړي، چې د ولسوالۍ د کمیسیون اکثره او د ولایت د کمیسیون اقلاً دری تنه غړي به د هغوئ د کار په ساحه کې حاضروي د

٣٥

دوا ړو کمیسیونو مشران او غړي به داسې اشخاص وي چې د خپل کار ساحې ته په تللو کې عذرونه لري

۳۵- په کومو ولسوالیو کې چې د اسلامي امارت د مجاهدینو فعالیتونه بارز او څرګند دي د ولسوال په حیث دې مسؤل ورته تعین کړای شي، ولسوال دې بیا د مافوق ((لوړ رتبه)) مسؤلینو په موافقه یو داسې کس د ولسي چارو د ترسره کولو د پاره د مرستیال په حیث تعین کړي چې په نظامي چارو کې یې مصروفیت ډیر نه وي، تریوه حده په ولسي چارو بلد، تجربه کاره او د نیکو اخلاقو خاوند وي او هم یې خلک په اسانۍ سره پیدا کولای شي.

٣٦

۳۶- د نویو ګروپونو او دلګیو جوړول بند دي، البته د اشد ضرورت په وخت کې د ولایت د مسؤل په غوښتنه او د تنظیمه رئیس په موافقه یې له مشرتابه څخه منظوري اخستل کېدای شي، غیر رسمي او خپل سرې دلګۍ (ګروپونه) دې د والي له لوري په لویو دلګیو پورې مربوط شي او که له دې ارتباطه یې انکار او سرغړونه کوله بیا دې بې وسلې کړای شي.

۳۷- د اسلامي امارت ویندویان د اړونده اداري په وړاندیز د مشرتابه له لوري ټاکل کېږي او هغه به د ټول اسلامي امارت نمایندګي کوي، د ولایتونو، دلګیو او اشخاصو په استازیتوب

٣٧

هیڅوک حق نه لري چې له رسنیو سره خبري وکړي، د دې اصل مراعات کول به د بې نظمۍ، ګډوډۍ او بې اتفاقۍ مخنیوی وکړي.

۳۸- د هر ولایت مسؤل دې د ولایت په سطحه داسې شرعي محکمه جوړه کړي چې یو تن قاضي او دوه تنه جید علماء اعضاء ولري ترڅو د ولایت په سطحه هغه درانه موضوعات حل کړي چې د ولسوالیو او کلیو علماء کرامو او مسؤلینو ته یې حل کول مشکل وي والي دې د محکمې قاضي او اعضاء د منظورۍ د پاره مشرتابه ته پشنهاد کړي.

۳۹- د ولایت په تشکیل کې تنظیمه رئیس د والي په مشوره او والي د ولسوالیو په

۳۸

تشکیلاتو کې دولسوال په مشوره تغیرات راوستلای شي. البته که په دغه اړه تر مشورې وروسته دوالي او ولسوال نظرونه موافق نشي والي به موضوع تنظیمه رئیس ته وړاندې کوي، که تنظیمه رئیس او والي سره موافق نه شول تنظیمه رئیس به موضوع مشرتابه ته وړاندې کوي. همدارنګه ولایتي کمیسیون کولای شي چې دولسوالی مسؤل له ښې څیړنې او تحقیق وروسته د تنظیمه رئیس او دولایت دمسؤل په اجازه بدل کړي.

۳۹

# اوومه برخه

## دمجاهدینو خپل منځي موضوعات

۴۰- پر مجاهدینو دخپل دلګی (ګروپ) مشر او پر دلګی مشر دولسوالی دمشر او دولسوالی پر مشر دخپل ولایت دمشر او دولایت پر مشر د تنظیمه رئیس او پر تنظیمه رئیس د امام او نائب امام اطاعت واجب دی په دې شرط چې شرعاً جائز وي

۴۱- کوم چا ته چې مسؤلیت ورکول کیږي نو باید دا لاندیني اوصاف و لري:

تدبیر، تقوی، شجاعت، شفقت او سخاوت. د ټولو اوصافو د خاوند د نه پیدا کېدو په صورت کې د تدبیر او تقوی مراعات لازمي دی.

۴۰

۴۲- نظامي کمیسیون د نده لري چې د پوځي چارو د پرمختګ په منظور دهرې سیمې دمجاهدینو دقوت او جغرافیایي موقعیت په نظر کې نیولو سره پلانونه جوړ کړي له کامیابو تکتیکونو او تجربو څخه ګټه واخلي او مجاهدینو ته یې ورسوي او هم که په یوه ولایت کې د دښمن فشار زیات شي نو د ګاونډیو او نورو ولایتونو مجاهدینو ته د دښمن د قوت د شیندلو او په خاص ځای کې د فشار د کمولو په منظور پروګرام طرحه او بیا دغه پروګرامونه د تطبیق او عملي کولو لپاره د مشورې په شکل مشرتابه ته وړاندې کړي او د مشرتابه تر منظورې وروسته دې ولایتونو ته د عملي کولو حکم وکړي.

۴۱

۴۳- نظامی کمیسیون به د ټولو ولایتونو د مجاهدینو له حالاتو څخه خبروي اهل او ښه کارکونکي مجاهدین به پیژني او د لاښه اکمال او تقدیر د پاره به یې مشرتابه ته معرفي کوي.

۴۴- څرنګه چې د نظامي کمیسیون غړي اکثره نظامي قوماندانان دي نو همیشه به مشکله وي چې ټول سره یو ځای شي لهذا چې څومره غړي یې د ضرورت په وخت کې سره یو ځای کېدای شي خپل کار ته دې دوام ورکوي او یا چې څرنګه د کمیسیون مسؤل لازم وګڼي په خپل منځ کې دې مناسب ترتیب سره جوړ کړي تر څو کارونه له ځنډ او ځنډ سره مخ نشي

۴۵- نظامي کمیسیون به د ولایاتو له مسؤلینو څخه د خپلو اجراآتو د څرنګوالي او فعالیت په اړه معلومات

٤٢

غواړي اوهم به دمجاهدينو دتشويق، د نظامي چارو دلابنه پرمختګ، تقويې اومعلوماتو د راټولولو دپاره وخت په وخت ولايتونو ته خپل هيأتونه ليږي.

۴۶ – دولسي اوحقوقي موضوعاتو دحلولو په برخه کې به ددې لائحې په (۲۲) ماده عمل کېږي خو که دولس اومجاهدينو اويا هم مجاهدينو ترمنځ داسي موضوعات راشي چې حلول يې دولايتي کمېسيون اويا هم دولسوالۍ کميسيون کوي نود ولايت کميسيون به دوالي اودولسوالۍ کميسيون به دولسوال يا دولسوال دمعاون موافقه اخلي دجانبينو خبرې به ښې په غورسره اوري او که ولايتي کميسيون موضوع نشواى حل کولاى بيابه نظامي کميسيون ته مراجعه وکړي نظامي کميسيون به

٤٣

دصلحې لاره غوره کړي او که په هغه هم موضوع حل نشوه بيابه يې مشرتابه ته وړاندې کوي مشرتابه به يې داړونده اداراواويا هم دعلماءکرامو په توسط حل کوي ، هريو کميسيون چې فيصله وکړي نو ددواړو طرفو په حضورکې به يې بيانوي.

۴۷- د ولايتونو او ولسواليو کميسيونونه به د خپلو نورو کارونو ترڅنګ ددې ځارنه هم کوي چې دمجاهدينو په ليکو کې بد خلک داخل نشي او که احياناً داسي کسان ووينې والي ته به يې معرفي کوي، د مجاهدينو د خپل منځي اختلافاتو او دولس او مجاهدينو ترمنځ د اختلافاتو د حل کولو کوښښ به کوي او د اسلامي امارت د ټولو فرامينواو لوائحو د تطبيق ځارنه به کوي، دتخلف کونکو د متوجه کولو

٤٤

او اصلاح کوښښ به کوي او دنه اصلاح کېدو په صورت کې به يې والي ته معرفي کوي

۴۸- که دنظامي کميسيون،ولايتي کميسيون اودولسوالۍ دکميسيون له کوم غړي اويا هم دهغه له انډيوالانو سره دولسي خلکو اويا هم مجاهدينو داسې دعوې راشي چې بيايې حلول هغه کميسيون ته وسپارل شي په کوم کې چې نوموړى شخص عضويت لري نو په دغه مشخصه موضوع کې به دغه په يو طرف کې واقع شخص ددغې موضوع دفيصله کولو په مجالسو کې شرکت نه کوي .

۴۹ –ولايتي کميسيون مکلف دى چې د کميسيون په اعضاؤ کې به داسې ترتيب جوړوي چې په هره مياشت کې يو ځل دمربوطه ولايت د

٤٥

سرايونواو اطاقونو مجاهدينو ته داطاعت،تقوى او اخلاقو لارښونه اودهغوئ د کړووړو ځارنه وکړي.

۵۰-که د مجاهدينو په ليکو کې څوک دکوم جرم مرتکب شي،اوياهم په تکرارسره دلائحې مخالفت وکړي او خپل دلګۍ مشر يا ولسوال يې وغواړي چې دجرم له امله يې له صف څخه وباسي دغه مشران به د نوموړي مجرم موضوع ولايتي کميسيون ته وړاندې کوي، ولايتي کميسيون به يې موضوع په دقيق ډول څېړي که يې جرم رښتيا هم د اخراج وړوو نو ولايتي کميسيون به د والي په موافقه پرېکړه کوي، چې تردې وروسته به بيا بل څوک حق نه لري چې دغه ايستل شوى فرد مسلح او اکمال کړي، او که يې توبه وايستله بياد ولايتي

٤٦

کميسيون او والي په موافقه په دنده گمارل کېدلی شي ،خو که نوموړی شخص دلگی مشر، ولسوال ،دولسوال معاون يابل مسؤل وي بيابه يې موضوع دوالي ياولايتي کميسيون له لارې نظامي کميسيون ته وړاندې کېږي نظامي کميسيون صلاحيت لري چې داصلاح کوښښ يې وکړي ،را ويې غواړي ،نصيحت ورته وکړي.تنبيه يې کړي که په دې ډول نه اصلاح کېده بيا دې دبې وسلې کولواويا هم له صف څخه دايستلو په منظور مشرتابه ته معرفي کړي اودغه اشخاص که تائب شي نوبېرته په کار گمارلو کې يې دنظامي کميسيون اووالي موافقه ضروري ده.

٤٧

۵۱-دولايت مسؤل دې دولايت په سطحه، او د ولسوالی مسؤل دې د منطقې له شرائطو سره سم په مناسب وخت کې له اړونده مسؤلينو سره دشويو عملياتو اونورو کړنو دلاسته راوړنو او نواقصو په هکله مشوره کوي ترڅو په راتلونکې کې د لاښو کاميابيو په هکله په زړه پوري پروگرامونه جوړ کړي اوله تاوان څخه مجاهدين وژغوري.

۵۲-ديوې ولسوالی يا ولايت کوم ډلگی مشر که دڅه وخت دپاره بل ولايت او ياولسوالی ته دجهاد کولو لپاره ورځي نوورتلای شي، خو د اړونده ولايتونو او ولسواليو له مسؤلينو څخه به اجازه اخلي او دخوښ کړای شوي ولايت او ولسوالی مسؤل يې مشر بلل کېږي مکمل اطاعت به يې کوي.

٤٨

۵۳-که کوم والي يا بل مشر له پخوا څخه په بل ولايت کې فعال گروپ يا ډلگی لري دهغه ولايت مسؤل ته دې خپل ډلگی او مربوطه مجاهدين معرفي کړي چې لدې وروسته به دهغه والي اطاعت کوي، په اجراآتو کې به له هغه څخه هدايت اخلي، او اکمال به يې هم دولايت دنورو مجاهدينو په څېر دهغه ولايت مسؤلين کوي، د اسلامي امارت په تشکيلاتو کې عمومي محاذونه بندديي او داسې محاذونه د امارت دتشکيلاتو برخه نه گرزي.

۵۴-که ديوه ولايت کوم ډلگی مشر په بل ولايت کې د هغه ځای له مسؤلينو سره دجهاد په چارو کې ملگرتيا کوي اوله دې وروسته همدلته جهاد کول غواړي نو دنوي ولايت مسؤلين به تر

٤٩

هغه وخته پورې ځای نه ورکوي او له ځان سره به يې نه ملگری کوي چې ترڅو يې دلومړني ولايت له ولايتي مسؤل څخه د نوموړي شخص په هکله کره معلومات، اطمينان او موافقه نه وي تر لاسه کړې اوهم به له ورتلونکي شخص څخه پوښتنه کوي چې ولې يې مخکينی ولايت پريښودا وبل ولايت ته راغی که يې عذرشرعي وو بيا دې ومنل شي.

۵۵- دلگی مشر(سر گروپ) داحق نه لري چې دخپل گروپ يا دلگی د ډېريدو په خاطر د بلې دلگی مجاهدين ځان ته دعوت کړي، البته که کوم مجاهد دبل مسؤل سره يوځای کېدل غواړي کولای شي، خو هغه جهادي اجناس چې پخواني دلگی مشر دجهاد دخدمت لپاره دغه تلونکي شخص ته

۵۰

ورکړي وي او یا هم ددوئ په ګډه ملګرتیا کې نیول شوي وي او د دلګی حق پرې ثابت شوی وي هغه اجناس به مخکیني دلګی مشر ته خامخا ور پر پړ دي او که یې په غنیمت یابل صورت کې کوم شی شخصي ګرځیدلی وي هغه ورسره وړای شي.

**۵۲**-هغه مبارز مجاهدین چې په ډله ایز شکل د دښمن په مرکز ورننوزي او هلته وسلوال برید ترسره کوي ، باید ښوخبرې په نظر کې ولري:

۱-باید دغه مبارز مجاهدین په ښه ډول تربیه او هریوه ته خپل خپل اهداف مشخص شي.

۲-دغه مبارز مجاهدین باید په ښه زیاته اندازه اکمال او مجهز شي ترڅو تر ډیره وخته مقاومت وکړي او دښمن ته زیات زیان واړوي.

۵۱

۳- دغه مجاهدین او یا دهغوئ مشران دې تربرید مخکې دهغې ساحې په اړه پوره معلومات او لارې ځان ته معلومې کړي په کوم ځای چې حمله کوي.

**۵۷**- داستشهادي بریدونو په هکله باید لاندینی ځلور خبرې په نظر کې ونیول شي.

**لومړی**: استشهادي مجاهد باید تر برید مخکې په ښه ډول تربیه شي.

**دوهم**: استشهادي حمله دې په لوړو او اهمو اهدافو ترسره شي او د اسلامي امت دغه سرښندونکي قهرمانان باید په ټیټو او بې ارزښته اهدافو کې ونه کارول شي.

۵۲

**دریم**: په استشهادي بریدونو کې باید دعامو خلکو د وژل کېدو او تلفاتو دمخنیوي زیات کوښښ و کړای شي.

**څلورم**: له هغو مجاهدینو پرته چې د مشرتابه له لوري خصوصي پروګرام او اجازه ورکړل شوې وي نور ټول مجاهدین مکلف دي چې په استشهادي بریدونو کې به دولایت له مسؤل څخه اجازه اوهدایت اخلي.

**۵۸**-داسلامي امارت عمومي کمیسیو نونه به دخپلو مربوطه موضوعاتو دلاښه والي اوترقی په منظوروخت په وخت مشورتي غونډې سره کوي

۵۳

# اتمه برخه

## دتعلیم اوتربیې موضوع

**۵۹** - دتعلیم اوتربیې په اړوند به د اسلامي امارت په تشکیلاتو کې دتعلیمي کمیسیون له پروګرام او اصولو سره سم چلند کېږي، د ولایاتو او ولسوالیو مسؤلین به دتعلیمي چارو د پر مخ بیولو په لړ کې د نوموړي کمیسیون له تګلارې سره سم عمل کوي.

٥٤

## نهمه برخه

### د مؤسسواوشرکتونودکنترول اوتنظیم په اړه

۲۰- ولايتي مسؤلين به دمؤسساتواو شرکتونو په اجرآتو کې دمؤسساتواو شرکتونو دکنترول اوتنظيم د کميسيون په هدايت اجراآت کوي، البته کميسيون دمربوطه ولايت دمسؤل په مشوره مکلف دی، دنظر دنه توافق په صورت کې به له مشرتابه څخه هدايت غوښتل کېږي، دولايت، ولسوالۍ، دلګۍ مسؤلين اودنوموړی کميسيون ولايتي نمايندګان دمؤسساتو اوشرکتونو په موضوعاتو کې په خپل سر دپرېکړې حق نه لري.

٥٥

## لسمه برخه

### دروغتياپه برخه کې

۲۱- داسلامي امارت دروغتياكميسيون دخپلومربوطه چارودتنظيم دپاره ځانګړی طرزالعمل لري دمجاهدينوتداوي به دهغه طرزالعمل له مخې ترسره کېږي ،دروغتياپه برخه کې ولايتي نمايندګان مکلف دی چې داصولو په رعايت اوارونده چاروکې دنوموړي کميسيون لارښوني عملي کړي.

٥٦

## يولسمه برخه

### ولسي موضوعات

۲۲-دسيمو اوسيدونکو که چېرته دحقوقي او په نورو خصوماتو کې دقضيې دحل په موخه مجاهدينو ته عريضه وکړه تو هر دلګۍ مشر دا حق نه لري چې دعامو خلکو په موضوعاتو کې مداخله وکړي، البته يوازې د ولايت مسؤل، د ولسوالۍ مشريا دهغه مرستيال کولای شي چې دعارض په عرض پانه غور وکړي او د اړونده مراجعو دلارې دي لومړی د منځګړو په توسط په سولې او مشروع جرګه په داسې ډول

٥٧

موضوع ورحل اوفصل کړي چې له مقدس شريعت سره ټکر ونه لري اوکه صلح يا د مصلحينو جرګه ممکنه نه وه بيا دي دمحکمې دشتون په صورت کې محکمې ته راجع کړي، او که محکمې شتون نه درلود نو په دې صورت کې دې دجيدو علماء کرامو دنظر موافق اجرأت وکړي.

۲۳-داسلامي امارت په واکمنۍ کې چې کوم موضوعات اودعوې په صحي ډول فيصله شوې دي په اوس وخت کې دهغو موضوعاتو بيا را ژوندي کول او څېړل بند دي، که څه هم يو ځرف پري قناعت ونه لري، ځکه چې داوسنيو

۵۸

شرایطو په تناسب په هغه وخت کې دزیات عدل امکانات برابر وو.

۶۴- د عامو خلکو پـــه دعـــووکې دي دمجاهدینو مسؤلین اوافرادمداخله نه کوي اونـه دي دچاطرف نیـسي اونـه دي هم قاضیانو اومحکمو ته دواسطې اوتاییدلپاره ورسره ځي.

۶۵- د ولایتونو، ولسوالیو، دلګیو مسؤلین او نور ټول مجاهدین دې په خپل ټول توان سره دعامو خلکو دمرګ، ژوبلې او دهغوئ دموټرواوټولو شخصي مالونو دضایع کېدو سره احتیاط کوي، دبې احتیاطۍ دکولو پـه صورت کې هر یو په خپل نوبت او حیثیت سره

۵۹

ذمه وار بلل کېږي او د کړي جرم په اندازه به سزا ورکول کېږي.

۶۶-که کوم مسؤل یاعادي شخص د مجاهد له نوم څخه په استفادې عامو خلکو ته ضرر رسوي نو مافوق مسؤل یې په دې مکلف دی چې همدا فرد یا مسؤل اصلاح کړي، دنه اصلاح کېدلو په صورت کې دې د ولایتي مسؤل له لوري د مشرتابه مقام ته معرفي کړي، مشرتابه به دخپل لزوم دید سره سم سزاورکړي اویاکه لازم وګڼي دمجاهدینوله صف څخه به یې خارج کړي.

۶۰

## دوولسمه برخه

## د ممنوعاتو په هکله

۶۷-څرنګه چې دوسلو دټولولو بهیر دتحریک له پیل څخه بیا تر اوسه پورې په شدت سره روان وو، همدا تصفیه کافي ده او بسنه کوي، تردې وروسته باید له چا څخه دبیت المال په نامه دتصفیې په عنوان په زور وسلې وانه خستل شي.

۶۸-مجاهدین باید له پخواني حکم سره سم دسګریټ له څکولو څخه په کلکه ډډه وکړي.

۶۱

۶۹-لغړزني (هغه څوک چې دکم عمرئ له وجې یې ږیره نه وي راغلې) له مجاهدینو سره په هستوګن ځایونو او نظامي مراکزو کې اوسول ممنوع دي.

۷۰-د شریعت په رڼا کې دانسان مُثله (غوږونه، پوزه، شونډې پرې کول) سخت منع ده، مجاهدین دې د دا ډول اعمالو پـه کلکه مخنیوی وکړي.

۷۱-داسلامي امارت مجاهدین دې له چا څخه په زور عشر، زکات اوچنده نه ټولوي اوکه دعشراوزکات څخه څه شی په لاس ورشي نو په خپلو شرعي مصارفو کې دې مصرفوي.

٦٢

۷۲-مجاهدين دې دخلکو په کورونو کې تلاشي نه کوي او که د تلاشۍ کولو سخته اړتيا وې بيا دې دولسوالۍ له مسؤل څخه اجازه اخلي او د تلاشۍ لپاره دې دکلي د مسجد امام او دوه تنه سپين ږيري دځان سره ملګري کوي.

۷۳- د پيسو دپاره دخلکو تښتول که په هر نامه وي ممنوع دي او دمربوطه سيمې مسؤلين دې په کلکه مخنيوى وکړي، که داسلامي امارت له نامه څخه په استفادې څوک دا ډول عمل کوي دولايت مسؤل به دغه جنايت کاران د مشرتابه په هدايت بې وسلې کوي او سخته سزا به ورکوي.

٦٣

# ديارلسمه برخه

## توصيې

۷۴-هردلګي مشر ته په کار دي چې دخپلو ملګرو دجهادي روزنې ،ديني او اخلاقي تعليم لپاره بيلا بيل وختونه تعين،کړي له جنګ او اضطراري حالت څخه پرته دې تعليم نه پريږدي .

۷۵- که خطرنه وي مجاهدين دې په مسجد کې په جماعت سره لمونځ کوي، او که مسجد ته تلل مشکل وي په خپلو هستوګن ځايونو کې دې په جماعت سره لمونځ کوي.

٦٤

تلاوت او ذکر ته دې خاصه توجه کوي ځکه په تلاوت او ذکر سره په زړونو کې اطمينان او قوت پيدا کيږي.

۷۶-مجاهدين دې خپل فکري قوت نظامي اړخ ته متوجه کړي، دسيمه ايزو شخړو او د ولسي مسائلو څخه دې ځانونه وساتي، ځکه له يوې خوا دا کار مصروفيت راولي او له بلې خوا په خپل منځ کې او هم له ولس سره ديدنيتۍ سبب ګرځي، البته که ډيره ضروري موضوع وه په (۲۲) ماده دې عمل وکړي.

۷۷-داسلامي امارت ټول کارکوونکي دې کوښښ وکړي چې دمخالف لوري غوليدلي کسان تسليميدو او وسلې ايښودلو ته تشويق

٦٥

کړي ، په دې سره به له يوې خوا ددښمن صف کمزورى شي او له بلې خوا به د داخلي کسانو له لوري پراته خنډونه کم شي او هم به په ځينو مواردو کې مجاهدينو ته وسلې او مهمات په لاس ورشي .

۷۸-مجاهدين مکلف دي چې دولسي وګړو سره اسلامي اخلاق اوښه چلند وکړي ،د عامو مسلمانانو زړونه دې ځانونو ته رانيږدې کړي، او د يوه مجاهد په صفت دې داسلامي امارت دا سې استازيتوب وکړي چې ټول هيوادوال ورته هر کلى ووايې اودهمکارۍ او مرستې لاس ورکړي.

٦٦

۷۹- مجاهدین دې لـه هـرډول قـومي ،ژبنـي اوسمتي تعصب څخه خپل ځانونه پـه بشپړه توګـه وساتي ! لـه حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې وايې ماله رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه واورېدل چې فرمايل يې : (ومن قاتل تحت راية عمية يغضب لعصبية او يدعو لعصبية او ينصر عـصبية فقتـل قتلـة جاهليـة ) [جزء مـن الحديث] مشكوة ۳۱۹ .

ژبـاړه: څـوک چـې تـر نـامعلوم بيـرغ لانـدې جنګيږي (يعني چې ښه اوبد يې معلوم نه وي اوبې بـصيرته پکـې روان وي ) او څـوک چـې دقـومي تعصب له وجهې غصه (قهر ) کوي (نه دکلمی دلوړ والي لپاره ) او يا قوم پالني ته خلک دعوتوي (نه

٦٧

د الله تعالی لپـاره ) او يا د قوميت دپاره چاتـه کومک ورکوي (نه د الله تعالی لپاره )بيا ووژل شو نو وژل يې يوه نوع دجاهليت ده (يعني لکه تراسلام مخکې چې مړه شوي دي).

۸۰-ما فوق مسؤل دې لـه خپـل مـا تحت مـسؤل سـره وخـت پـه وخـت دجهـادي اجناسـو اومـالي مصارفو په هکله محاسبه کوي.

۸۱ – مجاهـدين دې دشـريعت پـه چوکـاټ کـې خپلـه ظاهري بڼه لکـه دسرويښته ،جامې،بوټونـه اونورد سيمې دعامو خلکو په شکل جوړکړي، چې له يوې خوا مجاهدينو او محلي خلکو تـه لـه امنيتـي اړخـه ګتـه ورسوي اولـه بلې خوابـه مجاهـدين پـه اسانۍ سره هرلورته تلای راتلای شي.

٦٨

# څوارلسمـه بـرخـه

## دلايحې په هکله سپارښتنه

۸۲-ددې لائحې په يادو شويو مادوکې دتغيېراو تبديل صلاحيت يواځې داسلامي امارت له مقام اود اسلامي امارت لـه رهبری شوری سره دی،بل څوک که دکومې مادې دبدلولو اويادهغې په خلاف دعمل کولو اجراأت وکړي عذريې دمنلو وړ نه دی.

۸۳- مرکـزي نظـامي کميـسيو ن،دولايـاتواو ولسواليو کميـسيونونه مجاهدينوتـه ددغـې لائحـې او داسـلامي امـارت دنـورو فرامينـو او احکامو درسولو اوتطبيقولو دنده لري .

٦٩

۸۴-که چېرې داسې يو کـار دمجاهدينو مخې ته راشي چې په لائحه کې پرې بحث نه وي شوی، دولسوالۍ دموجوده مـسؤلينو پـه مشوره دې حل کـړای شـي، البتـه کـه بيـاهم موضـوع حـل نـشوه دولايت مسؤل ته دې مراجعه وکړي، او که له هغـه سره هم دحل لاره نه وه لـه تنظيمـه رئيس څخه دې هدايت وغواړي. اوکـه بيـا هم حل نشوه تنظيمـه رئيس دې له مشرتابه څخه هدايت وغواړي.

۸۵-په پورتنيو مادو عمل کول لازم اوضروري دی، کـه څوک ترې سرغړونه يا تخلف وکړي لـه هغه سره به له اسلامي اصولو سره سم چلند کېږي.

ومن الله التوفيق .

Appendix 2.A appears as part of the paper *The* Layeha*: Calling the Taleban to Account* by Kate Clark.

## ABOUT THE AFGHANISTAN ANALYSTS NETWORK (AAN)

The Afghanistan Analysts Network (AAN) is a non-profit, independent policy research organisation. It aims to bring together the knowledge and experience of a large number of experts to inform policy and increase the understanding of Afghan realities.

The institutional structure of AAN includes a core team (currently consisting of three senior analysts) and a network of regular contributors with expertise in the fields of Afghan politics, governance, rule of law and security. AAN will publish regular in-depth thematic reports, policy briefings and comments.

The main channel for dissemination of the reports is the AAN web site. For further information, please visit www.aan-afghanistan.org.

## AUTHOR BIO: KATE CLARK

Kate Clark has worked as senior analyst for the Afghanistan Analysts Network since May 2010. Her involvement in Afghanistan goes back to 1999 when, as the BBC Kabul correspondent, she was the only western journalist based in the country. She was a frontline reporter during the 2001 war and the fall of the Taleban, contributing to award-winning coverage.

After 2002, Clark covered stories in the Middle East, but also continued to return to Afghanistan, making radio and television documentaries about the insurgency, the political economy of weapons smuggling and opium, and war crimes. Her previous publications include joint authorship of the Chatham House paper *No Shortcut to Stability: Justice, Politics and Insurgency in Afghanistan*.

© Afghanistan Analysts Network 2010.

All rights reserved. No part of this publication can may be reproduced, stored in a retrieval system or transmitted in any form or by any means, electronic, mechanical, photocopying, recording or otherwise without full attribution.